د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو رياست




- د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی په مشرۍ د اقتصادي کميسيون د ځانګړې غونډې پرېکړې
- د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال: اسلامي امارت راستنېدونکو صنعت کارانو او پانګوالو ته په صنعتي ساحو کې ځمکې، امتيازونه او اسانتياوې په پام کې نيولي
- Islamic Emirate's Efforts to Reduce Fuel Prices

# آبادي

مياشتنی


۱۵ گڼه
دريیم کال
شعبان المعظم- ۱۴۴۶ هـ ق


> اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي ودې، نويو کاري فرصتونو رامنځته کولو، له خصوصي سکټور څخه د ملاتړ او دغه راز د سوداګرۍ او ترانزيټ په برخه کې د لازمو اسانتياوو برابرولو په موخه اساسي ګامونه اخيستي دي. په همدې موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه‌الله تعالی د ۳مې او ۷مې ګڼې فرمانونو له مخې د صنعتي ساحو قانون او د راستنېدونکو صنعت‌کارانو او سوداګرو لپاره د امتيازونو او اسانتياوو تنظيمولو طرزالعمل توشيح شوي دي. د صنعتي ساحو قانون او د راستنېدونکو صنعت‌کارانو او سوداګرو له پاره د جوړ شوي طرزالعمل اصلي موخه د صنعتي ساحو د تنظيم له لارې د افغانستان اقتصاد ته وده ورکول او د خصوصي پانګونې د جلب لپاره د زمينې برابرول دي.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

# ABAADI


@FDPM_AFG
dpmea.gov.af
@FDPM_AFG

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو رياست

بسم الله الرحمن الرحيم

# ابادي
میاشتنی

دریم کال
شعبان المعظم-۱۴۴۶هـق
۱۵ گڼه

**د امتیاز خاوند:** د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

**کتنپلاوی:** مولوي عبدالله عزام، مولوي ذبيح الله ناصر، امان الله حنيفي
فضل ولي شيراني او نجيب الله مايار

**مسئول مدير:** مولوي خالق داد تقي

**ډیزاینر:** عطاءالرحمن سعيد

**فوټوژورنالیست** حجت الله قاضي زاده



مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af



**د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.**

**استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.**

# لړلیک


سـرلـیـکـنـه ۱

غـــونـــډې ۲ - ۱۳

د پـــروژو پـــرانیـــســتـــې ۱۴ - ۱۹

لیـــدنې او کنفـــرانسونه ۲۰ - ۲۹

د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې ۳۰ - ۵۵

English Section 1 - 5



# سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخونــد د روان ۱۴۰۳ کال د مرغومـــي په میاشـــت کې (په افغانســـتان کې پانګونې ته بلنه) تر سرلیک لاندې جوړ شوي کنفرانس او د کابل ولایت په شـــکر دره ولسوالۍ کې د شاه و عروس بند د ګټې اخیستنې په مراسمو کې ګډون وکړ.

پورته یاد موضوعات دواړه اقتصادي اړخ لري. (په افغانســـتان کې پانګونې ته بلنه) تر سرلیک لاندې جوړ شـــوي کنفرانس کې د اســـلامي امارت له لوري په هېواد کې کورنیو او نړیوالو پانګوالو او صنعت‌کارانو ته په پام کې نیول شـــوو امتیازونو او رامنځته شـــوو اسانتیاوو په اړه خبرې وشوې. په دې کنفرانس کې د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله د ۳مې او ۷مې ګڼې فرمانونو له مخې توشـــیح شـــوي د صنعتي ساحو قانـــون او د راســـتنېدونکو صنعت‌کارانو او ســـوداګرو لپاره د امتیازونو او اســـانتیاوو تنظیمولو طرزالعمل هم وړاندې شو. د صنعتي ساحو قانون د جوړېدو موخه د صنعتي ساحو د تنظیم له لارې د افغانســـتان اقتصـــاد ته وده او پراختیـــا ورکول، د خصوصي پانګې جلب او جذب او د صنعتي ســـاحو مدیریت، ساتنه او مراقبت ته زمینه برابرول دي. د راستنېدونکو صنعت کارانو او سوداګرو له پاره جوړ شوی طرزالعمل له راستنېدونکو افغان صنعت‌کارانو، سوداګرو او پانګوالو سره د همکارۍ کولو په موخه جوړ شوی دی. له نیکه‌مرغه اسلامي امارت د پانګونې اهمیت ته په کتو د پانګونې د جلب او جذب له پاره مؤثر ګامونه اخیســـتي دي چې د صنعتي ســـاحو د تنظیـــم قانون او د راستنېدونکو صنعت‌کارانو او ســـوداګرو له پاره طرزالعمل یې ښـــې بېلګې دي. د دې قانون او طرزالعمل له مخې به له یوه لوري کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې له پاره فرصت برابر شي او په بهر کې به افغان پانګوال خپله پانګه هېواد ته را انتقال او له بل لوري به زموږ صنعت، سوداګري، ترانزیټ، کرنه او نور سکټورونه پراختیا ومومي.

بل مهم ګام چې اســـلامي امارت پورته کړ هغه د شاه و عروس بند ګټې اخیستنې ته سپارل دي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې مناسبت جوړ شـــوو مراسمو کې د اوبو ارزښت ته په اشارې سره وویل، نـــن ورځ په نړیوال سیاســـت او اړیکو کې پر اوبـــو د یو مهم اقتصادي عنصر په توګه بحث کېږي او په یوشمېر هېوادونو کې یې ارزښت تر نفتو او قیمتي کاني زېرمو هم لوړ دی. اسلامي امـــارت د اوبو ارزښـــت او اړتیا په درک کولـــو سره د دغه مهم اقتصـــادي عنصر پر ځای کارولو ته جـــدي پاملرنه کړې او په همدې موخه یې د کابل ولایت په شکردره ولسوالۍ کې د شاه و عروس بند پاتې چارې بشـــپړې او ګټې اخیســـتنې ته یې وســـپاره. د دې بند په جوړېدو به له یوه لوري د هېواد پریمانه اوبه چې تر دې مهاله پرته له کومې ګټې اخیســـتنې بهېدې، مهـــار او پر مټ به یې د هېواد د کښـــت وړ ځمکې زیاتې او د کرنې ســـکټور د پرمختګ تر څنګ به د برېښنا په تولید کې زیاتوالی راشي او ورسره به زموږ د اقتصادي ودې له پاره مهم سکټورونه وده وکړي.

دا یو واقعیت دی چې نن ورځ اوبه او د هغو سم کارول نه یوازې ملي، بلکې نړیوال لومړیتوب دی. دغه راز اوبه د شنه اقتصاد اصلي محور بلل کېږي. اوبه د اقتصادي پراختیا ترڅنګ د بې وزلۍ په راکمولو، د کرنې، صنعت او انرژۍ سکټورونو د ودې په برخه کې مهم رول لري. نو په لنډ ډول ویلای شو چې اسلامي امارت د هېواد هغو برخو ته خپل پام ور اړولی دی چې کولای شي د هېواد اقتصاد پیاوړی او هېوادوالو ته د هوسا او ارام ژوند زمینه برابره کړي.



د اقتصـــادي او ملـي تداركاتـــو كمېسيونونو او
همدا راز  د تخنيكي او پانګونې بين الوزارتي كمېټو

# غونډې



## د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی په مشرۍ
## د اقتصادي کمیسیون د ځانګړې غونډې پرېکړې

د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن و الحدیث مولوي هبةالله اخوندزاده حفظه الله تعالی په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون ځانګړې غونډه ترسره او لاندې پرېکړې په کې وشوې:

### پرېکړه:

د چارو ادارې لوی ریاست د سرپرست شیخ نورالحق انور په مشرۍ، د امر بالمعروف، نهي عن‌المنکر او شکایتونو اورېدلو، ارشاد، حج او اوقافو، د اطلاعاتو او فرهنګ، لوړو زده کړو او پوهنې وزارتونو، د سترې محکمې او مرکزي دارالافتاء عمومي ریاستونو، د علماوو شورۍ او فقهي مجالسو په غړیتوب هیئت ته دنده سپارل کېږي چې په ټول افغانستان کې هغه بد رواجونه تثبیت کړي چې د شریعت له مخې هم روا نه وي او خلک یې هم زیاتو مصارفو او اسرافونو ته اړ کړي وي، د دې د مخنیوي لپاره دې یوه طریقه جوړه کړي او د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی محترم مقام ته دې وړاندې کړي.

### پرېکړه:

د چارو ادارې لوی ریاست د سرپرست شیخ نورالحق انور په مشرۍ، د کور او ښار جوړولو، عدلیې، کرنې اوبولګولو او مالدارۍ (اراضي) او د صنعت او سوداګرۍ وزارتونو او کابل ښاروالۍ په ګډون هیئت ته دنده سپارل کېږي چې لاندې کارونه ترسره کړي:

۱- هغه ځمکې چې خالص امارتي ملکیت او د هستوګنې او سوداګرۍ لپاره دي، تر ښاري پلان لاندې او زیربنایي (بنسټیزې) چارې یې یوه اندازه ترسره شوې دي، هراړخیزه کړنلاره دې ورته جوړه کړي چې له مخې یې خلکو ته ځمکې تملیکاً په اصولي توګه وویشل شي.

۲ـ هغه هستوګنيز ښارګوټي چې د غصب د مخنيوي او غصب شويو ځمکو د استرداد کمېسيون له لوري امارتي ثابت شـــوي او تصفيه شوي دي، هراړخيزه کړنلاره دې ورته جوړه کړي چې له مخې يې د ښـــاري پلان مطابق خلکو ته د ابادۍ او ودانولو په موخه تمليکاً ورکړل شي.

۳ـ د ښـــاري پلان له مخې دې، د خلکو په شـــخصي ځمکو کـــې د ابادۍ او ودانيزو چـــارو ترسره کولو بهير اسانه او سهولتونه ورته رامنځته کړي.

## پرېکړه:

د کرنـــې، اوبولګولو او مالدارۍ، صنعت او ســـوداګرۍ وزارتونو او اراضي رياست په ګډون پلاوي ته دنده سپارل کېږي:

۱ـ د کابل په څلورو خواوو کې د صنعت اوليه او خفيفه لپاره دوه دوه زره جريبه ځمکه د صنعتي سيمو د جوړولو په موخه د افغانســـتان اســـلامي امارت له لوري د نوي منظور شـــوي قانون، چاپېريال ساتنې او ښاري ماسټر پلان مطابـــق د يوې کړنلارې له مخـــې يادې ځمکې ځانګړې او وسپارې.

۲ـ په ننګرهار، کندهار او بلـــخ ولايتونو کې د صنعتي ساحو لپاره شل شل زره جريبه ځمکه د صنعتي ساحو لپاره د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله تعالی له لوري د نوي منظور شـــوي قانون، چاپېريال ساتنې او ماسټر پلان لـــه مخې ځانګړې او وســـپارې. همدارنګه دې د يادې ځمکې له يوې برخې څخه د کانونو د پروســـس کولو لپاره هم ګټه واخيستل شي.

۳ـ په کندوز ولايت کـــې دې (۱۰) زره جريبه ځمکه د صنعتي سيمو لپاره د امارت له لوري د نوي منظور شوي قانون، چاپېريال ساتنې او ماسټر پلان مطابق ځانګړې او وسپارې.

۴ـ د کابل، ننګرهار، کندهار، بلخ او کندوز ولايتونو پرته په نورو ولايتونو کې د امـــکان په صورت کې د صنعتي پارک لپاره په هر ولايـــت کې (۱۰۰۰) جريبه ځمکه د صنعتي ســـاحو لپاره د اســـلامي امارت له لوري د نوي منظور شـــوي قانون، چاپېريال ســـاتنې او ماسټر پلان مطابق ځانګړې او وسپارې.

۵ - د کوچني صنعت يا تشـــبثاتو لپاره دې په هر ولايت کې له لس څخه تر پنځـــوس جريبه ځمکه د صنعتي ساحو لپاره د اسلامي امارت له لوري د نوي منظور شوي قانون، چاپېريال ساتنې او ماسټر پلان مطابق ځانګړې او وسپارې.

٦ـ د فارمي مالدارۍ، کرنې او د چرګانو پالنې لپاره دې خلکو ته ملکيتاً يا په اوږدمهاله د تمديد وړ اجاره ورکولو په موخه هراړخيزه کړنلاره چمتو کړي.

## پرېکړه:

اقتصادي کمېسيون ته دنده سپارل کېږي، د لويو لارو په اوږدو کې هغه ځمکې چې هلته د مسجد او لوازماتو د ودانولو په موخه ټولګټو وزارت ته تثبيت شوې او د ياد وزارت له لوري تراوســـه نه دي ابادې شوې، خصوصي ســـکټور ته ورکړي، چې نارينه او ښځينه مسجدونه، د اودســـو ځايونه، تر څنګ يې تېل پمپونـــه، هوټل او د مسافرو د اړتياوو مطابق ودان کړي چې د مسافرو لپاره

د اســـانتیاوو رامنځته کولو سربېره خلکو ته د کار زمینه هم برابره شي.

## پرېکړه:

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ او اوبو او انرژۍ وزارتونو او اراضي ریاست ته دنده سپارل کېږي، په هغو سیمو کې چې امارتي ځمکې او ترځنګ یې اوبه شـــتون لري، د اغېزناکې ګټې اخیستنې او خلکو ته د اجاره ورکولو په موخه هراړخیزه طرحه چمتو کړي.

## پرېکړه:

د امارتي شرکتونو لوی ریاســـت دې د سپین زر امارتي شرکت اړوند له کوکچې تر آبدان دښتې د کانال طرحه اقتصادي کمېسیون ته واستوي او د منظورۍ په موخه دې د عالیقدر امیرالمؤمنیـــن حفظه‌الله تعالی محترم مقام ته وړاندې کړي، اقتصادي کمېسیون دې د بحث پر مهال په همدې ســیمه کې منظور شوی بند هم په نظر کې ونیسي.

## پرېکړه:

د کانونو او پټرولیم وزارت او انکشاف ملي شرکت دې له بل خصوصي سکټور سره په ګډه د حاجي ګک سیمې د اوســپنې کان اړونــد طرحــه چمتــو او د عالیقــدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی محـــترم مقام ته دې د منظورۍ په موخه وړاندې کړي.

## پرېکړه:

د امارتي شرکتونو عمومي ریاست ته دنده سپارل کېږي چې د هلمند ولایت د کجکي برېښنا د قوي کولو او د توزیع لپاره د برېښنا شرکت جوړ شوی پلان تطبیق کړي او راپور یې د عالیقـــدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی محترم مقام ته وړاندې کړي.

## پرېکړه:

په کومو ولایتونو کې چې د امنیتي مســـؤلینو له لوري انساني ویښتان نیول شوي دي، د سوځولو په اړه دې د کورنیو چـــارو وزارت له لوري د امـــارت محترم مقام ته پېشنهاد وشي او د حکم له ترلاسه کولو وروسته دې ټولو ولایتونو ته یاد حکم ابلاغ کړي او له هغه سره ســـم دې اجراأت ترسره کېږي.

## پرېکړه:

د کومو شـــیانو صادرول یا واردول چې د مالیې وزارت یا له وزارتونو څخه د جوړې شوې تعرفې د کمېټې له لوري بندیږي، د هغه په اړه لاندې اجراأت ترسره کېږي:

۱ـ کوم شـــیان چې مالیه وزارت یا د تعرفې کمېټې له لوري بندیږي یا اجازه ورکول کېږي، د هغه ټولو شـــیانو لېســـتونه دې تهیه کېږي او د عالیقـــدر امیرالمؤمنین حفظه‌اللـــه تعالی له محترم مقام څخـــه دې منظوري اخیستل کېږي، یاده کمېټه مکلفه ده چې د خپل کار لپاره طرزالعمل جوړ کړي.

۲ـ هغه اوســـپنې چې د کابینې د فیصلې پر اساس یې قاچاق بند وي، د قاچاق کولو په صورت کې دې مالک باید (د اوســـپنې نوعیت او د عمل تکرار ته په کتو) له شپږو میاشتو څخه تر دوو کلونو پورې بندي شي او هغه کس چې انتقالوي یې، د هغه موټر دې تر دوو میاشـــتو پورې ودرول شي.

۳ - نیـول شـوي اوسـپنه دې د سرحـدي مجاهدینو له لوري مناسـب محفوظ ځای ته انتقال شي، هلتـه دې په محفوظ ډول ذخیره شي او ټول مشخصات دې یې ولیکل شي.

۴ - کومه قاچاقي اوسپنه چې نیول کېږي، هغه دې د بېرتـه ورکولو په صورت کـې د والي، د مربوطـه ولایت د قـول اردو د قومنـدان او د استخباراتو د رئیس په ګډه موافقه ورکول کېږي.

۵ - د دې لپاره چې په غیر رسمي لارو باندې د ممنوعـه توکو د قاچاق او د ممنوعه توکو د ورود مخـه ونیول شي، نو د هر ولایت د امنیه قومندانۍ له لوري دې یوه اندازه تشکیل دې ساحو ته ورکړل شي، ترڅو د بارېدونکو اموالو او اجناسـو او د را وارېدونکـو اموالو تلاشي وکـړي، یـادو مجاهدینو ته دې یـوه اندازه امتیازات ورکول شي.

## پرېکړه:

د عامې روغتیا وزارت، مالیې وزارت، د صنعت او تجارت وزارت او د ښاروالیو عمومي ریاست دې د قاچاقي دواوو او خوړو شیانو د مخنیوي لپاره یوه طریقه جوړه کړي او د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی حضور تـه دې وړاندې کړي. همدارنګه ټول هغه شیان دې هم مشخص شي چې د افغانستان له لوري یې صادرات کېږي او طرزالعمل دې ورته جوړ شي.

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرسـتیال پـه مـشرۍ د اقتصادي کمېسیون فوق العاده غونډه جوړه شوه

د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د قوس میاشــتې پــه ۲۱مه نېټه د اقتصادي کمېســیون فوق‌العاده غونډه ترسره شوه. په دغه غونډه کې د یوشمېر هغو پرېکړو په اړه لــه اړوندو وزارتونــو او ادارو سره د تطبیق او عملي کولو په اړه بحث او سپارښــتنې وشوې، چې د افغانســتان اســلامي امارت د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالــی له لوري یې د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت ته د تعقیب او درې میاشتې وروسته یې د راپور شریکولو دنده ســپارل شــوې ده.د یادونې وړ ده چې یادې پرېکړې د اقتصادي کمېســیون په هغه غونډه کې چې د ۱۴۴۶هــــ ق کال د جمادي الاولی میاشتې په درېیمه نېټه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن و الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه اللــه تعالی په مشرۍ ترسره شــوې وه، شوې دي.







# اقتصادي کمېسیون د کورنیو تولیداتو د استفادې او ملاتړ په موخه یوشمېر طرحې تایید کړې


د اقتصادي کمېسیون په نوبتي غونډه کې چې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجنډا سره سم پر ټاکل شوو موضوعاتو بحث وشو. په دغه ناسته کې د کورنیو کرنیزو او مالدارۍ محصولاتو څخه د ګټې اخیستنې د کړنلارې پر مسوده، په ساختماني پروژو کې د غوري سیمنټو پر کارولو، د خوست ولایت غلام خان او د کندهار ولایت د سپین بولدک ګمرکونو ته د ځمکې د لېږد او یوشمېر نورو موضوعاتو په اړه بحث وشو. له هراړخیز بحث وروسته د کورنیو کرنیزو او مالدارۍ محصولاتو څخه د ګټې اخیستنې د کړنلارې مسوده تایید او د نهایي تصمیم نیونې په موخه د ریاست‌الوزراء عالي مقام ته واستول شوه. دغه کړنلاره د بزګرانو او مالدارانو د اقتصادي ودې د پیاوړتیا او په ورته وخت کې کورنیو کرنیزو او مالدارۍ محصولاتو ته د بازارموندنې په موخه جوړه شوې، چې له مخې به یې په لومړي سر کې د ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونه، د استخباراتو لوی ریاست او ورپسې ټولې امارتي اداري او هېوادوال د خپلو اړتیاوو د پوره کولو پر مهال یادو محصولاتو ته لومړیتوب ورکوي. د اقتصادي کمېسیون یادې غونډې ته په ساختماني پروژو کې د غوري سیمنټو د کارولو په اړه د ټاکل شوي پلاوي راپور هم وړاندې او تایید شو. د وړاندې شوي راپور پر اساس اړوندو سکټوري وزارتونو، ادارو او هېوادوالو ته سپارښتنه وشوه، څو د خپلو پروژو او ساختماني چارو په هغو برخو کې د غوري سیمنټو استفادې ته لومړیتوب ورکړي، چې په یادو برخو کې د دغه فابریکې تولید شوو سیمنټو معیار پوره کړی دی. همدا راز د غوري سیمنټو فابریکې مسوولینو ته سپارښتنه وشوه چې د خپل ظرفیت لوړولو او همدا راز په ټولو برخو کې د معیاري تولید په موخه هڅې ګړندۍ کړي څو هېواد د سیمنټو په برخه کې خودکفایۍ ته ورسېږي. د غوري سیمنټو فابریکه اوسمهال په ۲۴ ساعتونو کې ۷۰۰ ټنه تولید لري چې کیفیت ته یې ځانګړې پاملرنه شوې ده. د یادو نورو موضوعاتو په اړه هم له مفصل بحث وروسته لازم تصامیم ونیول شول.

# د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې له لوري یوشمېر موضوعات د تایید وړ وبلل شول





د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د مرغومي میاشتې په درېیمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د وړاندې شوو موضوعاتو په اړه بحث وشو. دې غونډې ته د منرالونو د اولویت بندۍ سند او د ستر مقیاس معدني موادو د پروسس په موخه د معدني ساحو د ځانګړي کولو طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه. دغه سند او طرحه تر هراړخیزې ارزونې وروسته د تخنیکي کمېټې له لوري د راغلو تعدیلاتو په نظر کې نیولو سره د تایید وړ وبلل شول او د نهایي تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شول. همدارنګه په دغه غونډه کې له کوکچې سیند تر ابدان دښتې پورې د کانال غځولو پر طرحه هم بحث وشو او په اړه یې لازم تصمیم ونیول شو. دې غونډې ته د کمال خان بند د دویم فاز (قلعه افضل بند) د امکان سنجۍ په تړاو د ټاکل شوې کمېټې راپور هم وړاندې شو چې د تخنیکي کمېټې له لوري تایید او د نهایي تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شو. د غونډې په پای کې د یوځل کارېدونکي پلاستیک د کنټرول او کمولو طرحې په اړه هم بحث وشو. د دغه طرحې له هراړخیزې ارزونې وروسته د چاپېریال ساتنې ملي ادارې ته سپارښتنه وشوه، څو د ښکېلو وزارتونو او ادارو د نظرونو په پام کې نیولو سره یاده طرحه غني او د تطبیق په موخه یې له خصوصي سکټور سره مجالس ترسره کړي.


# ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا درېیو میلیاردو افغانیو په ارزښت یوشمېر پروژې منظورې کړې

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا درېیو میلیاردو افغانیو په ارزښت د ۱۷ پروژو قراردادونه منظور او د ۹ نورو یې تعدیل کړل.
د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډې ته چې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د مرغومي میاشتې په ۲۲مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجنډا سره سم ۳۲ پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې، چې له جملې یې د ۱۷ پروژو قراردادونه منظور، د ۹ تعدیل او دوې پروژې د تدارکاتي مراحلو د ستونزو له امله رد شوې او په اړه یې اړوندو مسوولینو ته سپارښتنه وشوه، څو یې د تدارکاتي پروسې د ټولو اصولو په پام کې نیولو سره بیاځلي ازادې داوطلبۍ ته وړاندې کړي.
همدارنګه د څلورو پروژو د قراردادونو د قېمتونو په اړه ټاکل شویو کمېټو ته دنده وسپارل شوه، چې له ګټوونکو شرکتونو سره مجلس ترسره او خپل راپور د ملي تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي. په منظور شوو او تعدیل شوو پروژو کې د کابل ولایت د ارغندۍ ترانسپورټي ترمینل جوړول، د هرات ولایت په ګذرې ولسوالۍ کې د باروړونکو موټرو تمځای جوړول، د آقینې – اندخوی او تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ پروژو ترمیم، په کندهار، هلمند او فراه ولایتونو کې د نوري فایبر لین غځول، د کابل ښار د یوشمېر داخلي سړکونو اساسي جوړول، په بېلا بېلو ولایتونو کې د برېښنا په برخه کې د شته پروژو د پاتې چارو بشپړول او یوشمېر نورې پروژې شاملې دي چې د اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.



# سه ترمینل بزرگ ترانسپورتی

## با هزینه ۱.۵ میلیارد افغانی در کشور ساخته می‌شود

در نشست اخیر کمیسیون تدارکات ملی با هزینه ۱ .۵ میلیارد افغانی، پروژه های ساخت سه ترمینل بزرگ ترانسپورتی در سه ولایت کشور منظور شد.

از این پروژه ها یکی هم ترمینل ترانسپورتی ارغندی کابل است که در ۹۱۴ جریب زمین ساخته می‌شود. این ترمینل ظرفیت صدها موتر گوناگون را دارد و کارهای آن در مدت دو سال تکمیل خواهد شد.

دومین ترمینل در ولسوالی گذره هرات در ۷۳۴ جریب زمین اعمار می‌شود که ظرفیت هزاران وسیله نقلیه را دارد. ترمینل سوم موترهای مسافر بری و باربری در منطقه ایتارچی در شهر فیض‌آباد ولایت بدخشان است که در ۲۰ جریب زمین ساخته می‌شود و کارهای آن در مدت ۱۴ ماه تکمیل خواهد شد.

با آغاز کارهای این پروژه‌ها، صدها فرصت کاری موقتی برای مردم فراهم شده و بعد از تکمیل ترمینل‌ها، فرصت‌های کاری دایمی ایجاد خواهد شد. ساخت ترمینل‌های مسافربری و باربری امکانات بیشتری برای انتقال مسافرین و کالاهای تجارتی فراهم کرده و در بهبود خدمات ترانسپورتی کمک خواهد کرد.

این پروژه‌ها گامی مؤثر در تقویت زیربناهای ترانسپورتی کشور است که در کنار ساخت این ترمینل‌ها، توسعه سایر بخش‌های این سکتور نقش مهمی در گسترش شبکه معاصر ترانسپورتی کشور ایفا خواهد نمود.

# شماری از موضوعات توسط کمیتهٔ تخنیکی کمیسیون اقتصادی مورد بحث قرار گرفت

جلسهٔ نوبتی کمیتهٔ تخنیکی کمیسیون اقتصادی به تاریخ اول دلو سال ۱۴۰۳ خورشیدی در قصر مرمرین دایر و طبق اجندا روی موضوعات ارایه شده بحث نمود. به این جلسه کمیتهٔ تخنیکی، موضوعات حفظ و مراقبت بندهای آب و تولید برق و گزارش‌های ارزیابی شماری از قرارادهای آهن، سرب و جست، مرمر، گچ و سنگ نفرایت ارائه شد، این گزارش ها پس از تحلیل و ارزیابی تائید و غرض تصمیم نهایی به کمیسیون اقتصادی راجع گردید.





# پە کابل او بلخ ولایتونو کې
## د سوداګریزو مارکېټونو جوړولو پر طرحو بحث وشو

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د سلواغې میاشتې په دوهمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د خصوصي سکټور له لوري د پانګونې وړاندې شوو طرحو په اړه بحث وشو. دې غونډې ته په کابل او بلخ ولایتونو کې د سوداګریزو مارکېټونو، په کابل ولایت کې د میوې او سبزۍ لپاره د مارکېټ او همدا راز د رسمي اسنادو د ثبت او تایید په موخه د برېښنایي سیستم جوړولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې. په غونډه کې له مفصل بحث وروسته ټاکل شوو کمېټو ته دندې وسپارل شوې څو د طرحو له وړاندې کوونکو شرکتونو سره تخنیکي مجلسونه ترسره او راپورونه یې په ټاکلو نېټو د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.



# شماری از موضوعات توسط
# کمیتۀ تخنیکی کمیسیون اقتصادی
# مورد بحث قرار گرفت

جلسۀ نوبتی کمیتۀ تخنیکی کمیسیون اقتصادی به تاریخ ۱۷م جدی سال ۱۴۰۳ خورشیدی در قصر مرمرین دایر و طبق اجندا روی موضوعات ارایه شده بحث نمود.

به این جلسه کمیتۀ تخنیکی موضوعات، حفظ و نظارت بندهای آب و برق در کشور، قرارداد خریداری برق بین د افغانستان برشنا شرکت و شرکت چالک، مراحل بعدی پروژه تاپ و ایجاد واحد اداری دوم تحت عنوان ریاست انرژی برق بدخشان ارائه شد.

پس از بحث مفصل به کمیته های متشکل از نمایندگان وزارت ها و ادارات ذیربط وظیفه سپرده شد تا در مورد موضوعات متذکره ارزیابی تخنیکی جامع انجام داده و گزارش خویش را با کمیته تخنیکی کمیسیون اقتصادی شریک سازند.





# د پــــروژو

# پرانیستي

# د شاوخوا ۱۴۵ میلیون ډالرو په پانګونې سره
## د لوګر سیمنټو تولیدي کارخونې تړون لاسلیک شو

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د مرغومې میاشتې په څلورمه نېټه د کانونو او پټرولیم وزارت او خصوصي شرکت ترمنځ د لوګر سیمنټو تولیدي کارخونې تړون لاسلیک شو. دغه کارخونه د لوګر ولایت په التمور سیمه کې موقعیت لري چې خصوصي شرکت به یې د جوړولو لپاره شاوخوا ۱۴۵ میلیون ډالر پانګونه کوي او په ورځني ډول به د ۲۵۰۰ ټنه سیمنټو د تولید ظرفیت ولري. په دغه کارخونه کې به سلګونو هېوادوالو ته کاري فرصت برابر او همدا راز به د خصوصي شرکت له لوري د سیمې اوسېدونکو ته په روغتیایي او ښوونیزو برخو کې هم خدمات وړاندې شي.

د یادونې وړ ده چې د اسلامي امارت په راتګ سره د کانونو او پټرولیم وزارت او خصوصي سکټور ترمنځ د سیمنټو د څلورو سترو پروژو قراردادونه لاسلیک شوي، چې شاوخوا ۶۲۳ میلیون ډالره پانګونې په‌کې کیږي او اوسمهال یې کارونه په چټکۍ سره روان دي.





د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال

# د شاه و عروس بند

د ګټې اخیستنې په مراسمو کې ګډون وکړ

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د مرغومې میاشتې په ۱۱مه نېټه د کابل ولایت په شکر دره ولسوالۍ کې د شاه و عروس بند د ګټې اخیستنې په مراسمو کې ګډون وکړ. د یاد بند د ګټې اخیستنې په مراسمو کې د ریاست‌الوزراء اداري او سیاسي مرستیالانو سرببره د کابینې یوشمېر محترمو غړو، د خصوصي سکټور استازو او د سیمې اوسېدونکو هم ګډون کړی وو.

محترم ملا صاحب په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو کې د اوبو ارزښت ته په اشارې سره وویل، نن ورځ په نړیوال سیاست او اړیکو کې پر اوبو د یو مهم اقتصادي عنصر په توګه بحث کېږي او په یوشمېر هېوادونو کې یې ارزښت تر نفتو او قیمتي کاني زېرمو هم لوړ دی. د محترم ملا صاحب په خبره، له بده‌مرغه پر افغانستان د تحمیل شوو جګړو او یوشمېر کورنیو او بهرنیو عواملو له امله په هېواد کې د دغه مهم اقتصادي عنصر د مدیریت لپاره اساسي پانګونه نه ده شوې او له همدې امله د موسمي بارانونو او اقلیمي بدلونونو له وجې د زیاتو سېلابونو راوتلو پر مهال یوشمېر هېوادوالو ته د سر او مال زیان رسېږي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په خبره، اسلامي امارت د اوبو ارزښت او اړتیا په درک کولو سره د دغه مهم اقتصادي عنصر مدیریت ته جدي پاملرنه کړې او

په همدې موخه یې د کابل ولایت په شکردره ولسوالۍ کې د شـــاه و عروس بند پاتې چارې بشپړې او نن یې له نېکه مرغه هېوادوالو ته د څنباک پاکو او همدا راز د کرنې لپاره د اړتیا وړ اوبو د برابرولو په موخه ګټې اخیستنې ته وسپاره.

محترم ملا صاحـــب زیاته کړه، د دغه بنـــد د چارو په بشـــپړېدو سره به ډېرو بزګرانو تـــه د ځمکو خړوبولو په موخه اوبه برابرې شي، د برېښـــنا پر تولید سربېره به د فـــردي اقتصاد او په ټوله کـــې د هېواد له ملي اقتصاد سره د پام وړ مرسته وکړي.

په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ټولو هېوادوالو ته د دغه لویې او ملي پروژې مبارکي وویله او له هغوی یې وغوښتل چې د دې او نورو پروژو په ساتنه کې له اســـلامي امارت سره اوږه پـــه اوږه خپل فردي مسوولیت په سمه توګه اداء کړي.

د یادونـــې وړ ده چې شـــاه و عروس بنـــد د ۷۸ متره لـــوړوالي په درلودو سره د ۹,۴ میلیون مترمکعب اوبو د ذخیره کولو ظرفیت لري، چې شـــاوخوا ۳۵۰۰ هکتاره ځمکه به خړوبه او همداراز به ۱,۲ میګاواټه برېښنا هم تولید کړي.

---

# د شاه و عروس اوبو بند د ګټې اخیستنې مراسمو ته

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وینا

الحمدلله و کفی و ســـلام علی عباده الذین اصطفی، اما بعد!

فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم،

بسم الله الرحمن الرحیم

قال الله تعالی: وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَيٍّ

د اوبـــو او انـــرژۍ وزارت مشرتابـــه، د امـــارتي ادارو مسوولینو، قدرمنو مشرانو، مجاهدینو، د تابیله پرهون ایراني شرکت مسوولینو، د رســـنیو استازو او محترمو مېلمنو؛

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

ډېر د خوښـــۍ ځای دی، چې د کابل ولایت اړوند په شکردرې ولسوالۍ کې د شاه و عروس اوبو بند ګټې اخیســـتنې ته د سپارلو په مراسمو کې ګډون کوو او د اوبو د مدیریت په برخه کې یو بل مهم ګام پورته کوو.

له هر څه وړاندې د افغانستان ټول شریف او غیور ملت ته د دغـــې مهمې ملي پـــروژې د بشـــپړېدو له امله مبارکي وایم.

ګرانو هېوادوالو!

دا یو واقعیت دی چې د اوسنۍ نړۍ په ځینو هېوادونو کې د اوبو قیمت د تېلو له قیمت سره مساوي دی او دا د دې ښکارندویي کوي چې ورځ تر بلې د اوبو ارزښت لوړېږي. په اوسنیو نړیوالو اړیکو او نړیوال سیاست کې پـــر اوبو باندې د یو مهم اقتصادي عامل په توګه بحث کېږي او داسې وخت هم راتلونکی دی چې د نړۍ په زیات شمېر هېوادونو کې به د اوبو ارزښت له نفتي او

ځینو نورو کاني زېرمو څخه لوړ وي.

له بلې خوا زموږ د هېواد په معاصر تاریخ کې د داخلي او تحمیــــلي جګړو او نورو داخـــلي او بهرنیو عواملو له امله د اوبو د مدیریت په زېربناوو کې مناسبه او د اړتیا وړ پانګونه نـــه ده سوې. همدا دلیل دی، چې کله د موســـمي بارانونو یا د اقلیمي بدلونونو پر مهال زموږ د هېواد اوبه ډېرې او مستې سي، نو د ابادولو پر ځای د خوارو افغانانو کورونه ړنګوي، د غریبو بزګرانو فصلونه وړي او عامه او شخصي تأسیسات له منځه وړي؛ خو د نـــورو هېوادونو د اوبو وضعیت داســـې نه دی، د دوی اوبـــه په ډېر مهـــارت ذخیره او مهار کېـــږي، د خلکو کورونـــه ابـــادوي، فصلونـــه خړوبـــوي، د خلکـــو پر دسترخوان ډوډۍ زیاتوي، رڼا تولیدوي او د اقتصادي ودې مهمترین جز تشکیلوي.

محترمو هېوادوالو!

د کابل شـــاه و عروس بند د هېواد د اوبو د مدیریت په برخه کې یو مهم ګام دی او د افغانســـتان اســـلامي امارت په هڅو یې پاتې کارونه په مسلکي توګه پای ته رســـیدلي دي. لله الحمد! اوس مهال دغه بند د اوبو رســـونې، اوبو لګونې او د انرژۍ د تولید په برخه کې عملاً ګټې اخیستنې ته چمتو دی.

یـــاد بند ۷۸ متره لوړوالی لـــري او د ۹,۴ میلیون متر مکعبه اوبو د ذخیره کولو ظرفیت لري، چې له امله به یې شـــاوخوا ۳۵۰۰ هکتاره ځمکه خړوبه سي او ۱,۲ میګاواټه انرژي به تولید کړي. نوموړی بند به د هېواد خواریکښـــو بزګرانو ته د او بولګونې پـــه برخه کې یوه منظمه سرچینه تأمین کړي، د کرنې سکتور په وده کې به مهم رول ولوبـــوي، د خلکو فردي اقتصاد به پیاوړی کړي، د اړتیا وړ انرژۍ په تأمین کې به لازمه ونډه واخلي او په لویه کې به د هېواد د اقتصادي ودې سره مرســـته وکړي.

لکه مخکې مې چې یادونه وکړه، د شاه و عروس بند د هېـــواد د اوبو د مدیریت په برخه کې یو مهم ګام ګڼل کېږي؛ خو هېواد مو لا هم په دې برخه کې ډېر زیات کار او پانګونـــې ته اړتیا لري. په نننی عصر کې د اوبو زیاتیدونکـــې اړتیا او اهمیت ته په پام، د افغانســـتان اســـلامي امارت د خپلو اوبو د مدیریت او مهار لپاره د پایداره پرمختـــګ اصل په نظر کې نیولو سره د پام وړ دوامدارې هڅې کوي؛ ترڅو د اوبو د اړتیا وړ زېربناوې ورغـوي او په دې برخه کـــې لازم ګامـونه پورته کـړي. ان شـــاءالله د دغه لوی، ملي او بنسټیز مسوولیت په برخه کې مو ارادې پیاوړې دي.

له ټولو محترمو هېوادوالـــو څخه غواړم، چې د دې او نورو ټولو ملي پروژو په ساتنه کې د اسلامي امارت سره اوږه په اوږه خپل فردي مســـوولیت په سمه توګه اداء کـــړي او هېڅکله له ملي تأسیســـاتو څخه داســـې استفاده ونکړي چې خدای مه کړه د تخریب او ورانېدو باعث وګرځي.


په پای کې د اوبو او انرژۍ وزارت له مشرتابه، تخنیکي مســـوولینو، د پروژې له ښـــاغلو انجنیرانو او له اړوند قراردادي شرکت څخه ډېره مننـــه کوم، چې د یادې مهمې ملي پروژې د بشـــپړېدو په برخه کې یې خپل مسوولیت په سمه توګه سرته رسولی دی.

# نکات مهم سخنرانی


# الحاج ملا عبدالغنی برادر اخند



در تاریخ معاصر کشور ما به دلیل جنگ‌های داخلی و تحمیلی و دیگر عوامـل داخلی و خارجـی، سرمایه گذاری‌های مناسـب و ضروری، در زیربناهای مدیریت آب صورت نگرفته است. به همین دلیل است که در زمان بارش های موسمی و یا تغییرات اقلیمی که آب در کشور ما افزایش می‌یابد و خروشان می‌شود، به جای ساختن، خانه های افغان های فقیر را تخریب می کنند، جان انسانها را می گیرند، حاصلات دهاقین فقیر را می‌برند و تاسیسات عامه و خصوصی را ویران می کنند؛ اما وضعیت آب کشورهای دیگر چنین نیست، آب آنها بسیار ماهرانه ذخیره و مهار می شود، خانه های مردم را آباد، فصل‌های زراعتی آبیاری، روشنایی را تولید می کند، غذا را به دسترخوان مردم می افزاید، و مهمترین بخش رشد اقتصادی را تشکیل می دهد.



این یک واقعیت است که در برخی از کشورهای جهان قیمت آب برابر با قیمت تیل اسـت و این نشـان می‌دهد کـه ارزش آب روز به روز افزایش می‌یابد. در روابط بین‌المللی کنونی و سیاسـت بین‌المللی، آب بـه عنوان یک عامـل مهم اقتصادی مورد بحـث قرار می‌گیرد و زمانی خواهد رسـید که ارزش آب در بسـیاری از کشـورهای جهان بیشتر از نفت و برخی منابع معدنی دیگر خواهد بود.



بند شـاه و عروس، یک گام مهم در مدیریت آب کشور پنداشته می شود؛ اما هنوز هم کشور ما به کار و سرمایه گذاری زیاد در این عرصه نیـاز دارد. با توجه به نیاز و اهمیت فزاینده آب در عصر امروز، امارت اسلامی افغانسـتان با در نظر داشت اصل توسعه پایدار، تلاش های چشمگیر و مسـتمر را برای مدیریت و مهار نمودن آب خود را انجام می دهد؛ تا زیربنا های لازم آب را احداث نموده و در این راسـتا، گام های لازم را بردارند. ان شـاءالله که اراده ما در این مسـؤلیت بزرگ، ملی و اساسی قوی است.



# لیدنې او
# کنفرانسونه



## له روسي پلاوي سره د شریکو شوو اقتصادي موضوعاتو د تعقیب په موخه ځانګړې غونډه ترسره شوه

له روسي پلاوي سره د شریکو شوو اقتصادي موضوعاتو د تعقیب په موخه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني بلادر اخوند په مشرۍ د اړوندو سکټوري وزارتونو ترمنځ ځانګړې غونډه د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د قوس میاشتې په ۲۵مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. له تفصیلي بحث وروسته د اوبو او انرژۍ، کانونو او پټرولیم، کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ، ټولګټو، کور او ښار جوړولو، ترانسپورټ او هوایي چلند او صنعت او سوداګرۍ وزارتونو، د ټولګټو وزارت د اوسپنې پټلۍ معینیت او د امارتي شرکتونو لوی ریاست ته دندې وسپارل شوې، څو هر وزارت او اداره د خپلې کاري ساحې اړوند د هېواد په کچه لویې او مهمې اقتصادي پروژې په نښه او له ټولو تفصیلي معلوماتو سره یوځای یې د ریاست‌الوزراء له اقتصادي معاونیت سره شریکې کړي. اقتصادي معاونیت به یادې پروژې د روسیې فدراسیون د ملي امنیت شورا د عمومي منشي سرګې شویګو په مشرۍ له هغه لوړپوړي پلاوي سره شریکې کړي، چې د روان کال د قوس میاشتې په پنځمه نېټه یې کابل ته سفر کړی و. یاد روسي پلاوي هغه مهال د ریاست‌الوزراء له اقتصادي مرستیال سره د لیدنې پر مهال د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو، سوداګرۍ او ترانزیټ کچې پر زیاتېدو خبرې وکړې او ټینګار وشو، چې دواړه لوري به په دغه برخه کې ګډ کار کوي.

همدا راز په دغه غونډه کې د هغو مهمو اقتصادي برخو په اړه هم بحث وشو چې روسي شرکتونو پکې پانګونې ته لېوالتیا ښودلې ده. له هراړخیز بحث وروسته د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت تر چتر لاندې د پانګونې بین الوزارتي کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو له یادو روسي شرکتونو سره د لا ښې همغږۍ رامنځته کولو په موخه انلاین مجلس ترسره کړي.

# معــــاون اقتصــادی ریاست الـــــوزراء
# با علماء و بزرگان قومی تخار دیدار نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء به تاریخ ۱۳م جدی ســال جاری در دفتر کاری اش با علماء و بزرگان قومی ولایت تخار ملاقات نموده و مشکلات آنان را استماع نمود.

در این ملاقات علماء و بزرگان قومی تخار مشکلات شان را با معاون اقتصادی ریاســت الوزراء شریک ســاخته و خواهان حل آن گردیدند.

محترم مــلا عبدالغنی بــرادر آخند گفــت، که امارت اسلامی نظام مردم است، خدمت به مردم و رسیدگی به مشکلات آنان مسئولیت مسئولین امارت اسلامی است و این کار را با اخلاص و صداقت کامل انجام می دهند.

علماء و بزرگان قومی تخار از کارهای انکشــافی امارت اسلامی در عرصه های مختلف در ولایت مذکور ستایش نموده گفتند، با تکمیل شدن این کارها، مشکلات مردم تــا حد زیادی حــل گردیده و با حل مشــکلاتی که در نشســت امروز مطرح گردید، امکانات و خدمات بهتری برای مردم ولایت تخار فراهم می شــود. در اخیر محترم ملا صاحب در مورد حل مشکلات مطرح شده اطمینان داده، افزود که به نهادهای ذیربط در این راستا هدایات لازم خواهد داد.



# معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء در مراسم دستاربندی حافظان «جامعه فتح‌العلوم کابل» اشتراک نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء به تاریخ ۲۰م جدی ۱۴۰۳ خورشیدی، در مراسم دستاربندی حافظان «جامعه فتح‌العلوم کابل» شرکت کرده و سخنرانی نمود. در این مراسم تعدادی از مسئولین امارت اسلامی، علمای کرام، مشایخ و اهالی منطقه نیز حضور داشتند.

معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء در سخنرانی خود گفت، که این یک افتخار است که مراکز علمی و آموزشی در کشور ما فعال و آباد هستند و فرزندان مردم در این مراکز علم می آموزند. خداوند متعال کشور و مردم ما را با علم و دانش آباد داشته باشد. محترم ملا صاحب به همه استادان مدارس دینی توصیه نمود که با شفقت و زحمت زیاد به فرزندان کشور تدریس نماید، زیرا آنها برای یادگیری علم هر نوع سختی را تحمل کرده و تحمل می‌کنند.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء به حافظان فارغ شده از جامعه فتح‌العلوم کابل و خانواده‌های آنان تبریک گفته و از آنها خواست که از علم خود برای خدمت به دین، کشور و مردم شریف این سرزمین استفاده کنند.



د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال:

# اسلامي امارت راستنېدونکو صنعت‌کارانو او پانګوالو ته په صنعتي ساحو کې ځمکې، امتيازونه او اسانتياوې په پام کې نيولي




د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ کال د مرغومي مياشتې په ۲۷مه نېټه (په افغانستان کې پانګونې ته بلنه) تر سرليک لاندې جوړ شوي کنفرانس کې ګډون او وينا وکړه. په دې کنفرانس کې د کابينې يوشمېر محترمو غړو، د بهرنيو هېوادونو سفيرانو، د نړيوالو بنسټونو استازو، ملي سوداګرو، پانګوالو او د خصوصي سکټور استازو هم حضور درلود.

محترم ملا صاحب په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو کې وويل، اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي ودې، د نويو کاري فرصتونو رامنځته کولو، له خصوصي سکټور څخه د ملاتړ او دغه راز د سوداګرۍ او ترانزيټ په برخه کې د لازمو اسانتياوو رامنځته کولو په موخه اساسي ګامونه اخيستي دي. په همدې موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه الله د ۳مې او ۷مې ګڼې فرمانونو له مخې د صنعتي ساحو قانون او د راستنېدونکو صنعت‌کارانو او سوداګرو لپاره د امتيازونو او اسانتياوو تنظيمولو طرزالعمل توشيح شوي دي.

د محترم ملا صاحب په خبره، د صنعتي ساحو قانون اصلي موخه د صنعتي ساحو د تنظيم له لارې د افغانستان اقتصاد ته وده ورکول او د خصوصي پانګونې د جلب لپاره د زمينې برابرول دي. همداراز د راستنېدونکو صنعت‌کارانو او سوداګرو لپاره د جوړ شوي طرزالعمل له مخې ټول صنعت‌کاران او سوداګر پر نورو امتيازونو سربېره د کارکوونکو له ماليې پرته له نورو مالياتو څخه د پنځو کلونو او همداراز پر ټولو وارداتي

ماشین الاتو او وسایلو یې هم ګمرکي محصول ورته معاف شوی دی. د دوی په غوښتنه فني بهرنیو کارکوونکو او انجنیرانو ته دوه کلنې ویزې هم ورکول کېږي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، له دې څخه د اسلامي امارت موخه دا ده څو په کور دننه او له هېواد څخه بهر افغان صنعت‌کاران او پانګوال په خپل هېواد کې پانګونې ته وهڅوي چې په مرسته به یې صنعت پرمختګ وکړي، هېوادوالو ته به کاري زمینه برابره او د کورني تولید کچه به زیاته شي.

محترم ملا صاحب د خصوصي سکټور ملاتړ ته په اشارې سره وویل، اسلامي امارت د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په موخه پر هغو وارداتي اقلامو ګمرکي تعرفې لوړې کړې، چې هغه په کور دننه تولیدیږي او د هېوادوالو اړتیاوې پوره کولی شي. د دې تر څنګ ټولو امارتي ادارو ته هدایت شوی چې د خپلو خریداریو پرمهال کورنیو تولیداتو او محصولاتو ته لومړیتوب ورکړي. پر دې سربېره له خصوصي سکټور څخه د ملاتړ صندوق هم جوړ شوی چې په بېلابېلو برخو کې ښې لاسته راوړنې لري.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په کور دننه او بهر کې مېشتو افغان صنعت‌کارانو او پانګوالو څخه وغوښتل څو خپل صنعت او پانګه افغانستان ته را انتقال او د هېواد په پرمختګ کې خپل مسوولیت ادا کړي. اسلامي امارت دوی ته د اړتیا پر مهال د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکوي.

## «په افغانستان کې پانګونې ته بلنه» تر سرلیک لاندې غونډې ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وینا

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله و کفی، و سلام علی عباده الذین اصطفی،

أما بعد!

قال رسول الله صلی الله علیه و سلم:

التاجر الصدوق الامین مع النبیین والصدیقین والشهداء والصالحین.

امارتي مسوولینو، د خصوصي سکټور استازیو، سوداګرو، صنعتکارانو، پانګوالو او د غونډې ګډونوالو؛

السلام علیکم و رحمة الله وبرکاته!

د خوښۍ ځای دی چې له بهر څخه د راستنېدونکو صنعتکارانو او پانګوالو لپاره د امتیازونو او اسانتیاوو د اعلان او همدا راز ټولو صنعت‌کارانو او پانګوالو ته په صنعتي ساحو کې د ځمکو ورکړې د پیل په جوړه شوې غونډه کې سره راټول یو.

د افغانستان اسلامي امارت ثابته کړې چې د سوداګرو، صنعتکارانو او پانګوالو په ټوله کې د خصوصي سکټور ملاتړ کوي او په دې برخه کې یې عملي ګامونه پورته کړي دي.

تاسو ته بهتره معلومه ده چې اسلامي امارت د خصوصي سکټور د ملاتړ په موخه پر هغو وارداتي



اقلامو ګمرکي تعرفې لوړې کړې، چې هغه په کور دننه تولیدېږي او د خلکو اړتیاوې پوره کولی سي.

د دې تر څنګ ټولو امارتي ادارو ته هدایت سوی دی، چې د خصوصي سکټور د ودې په موخه دې په خپلو خریداریو او تدارکاتي پروسو کې کورنیو تولیداتو او محصولاتو ته لومړیتوب ورکړي، که څه هم کیفیت یې د بهرنیو تولیداتو او محصولاتو په پرتله څه نا څه ټیټ وي.

دغه راز څه موده وړاندې له خصوصي سکټور څخه د ملاتړ صندوق هم جوړ شو. د دغه صندوق په پرانیستلو سره له یوه لوري د خصوصي سکټور د ملاتړ ترڅنګ، د سوداګرۍ، ترانزیټ، صنعت او کورنیو تولیداتو د ودې او پرمختګ بهیر ګړندی سوی او له بل لوري هېوادوالو ته د کاري فرصتونو په برابرېدو کې زیاتوالی راغلی.

اسلامي امارت له خصوصي سکټور څخه بشپړ ملاتړ، راستنېدونکو صنعتکارانو او سوداګرو، کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې د زمینې برابرول او د کورني صنعت پرمختګ ته لومړیتوب ورکول خپل مکلفیت ګڼي.

اسلامي امارت د تل پاتې اقتصادي ودې، د نویو کاري فرصتونو رامنځته کولو، د خصوصي سکټور څخه د بشپړ ملاتړ او د قانوني کړنو پر وړاندې د خنډونو د لرې کولو او دغه راز د سوداګرۍ او ترانزیټ په برخه کې د لازمو اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه اساسي ګامونه اخیستي، چې ښه بېلګه یې د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله د ۳مې او ۷مې ګڼې فرمانونو له مخې د صنعتي ساحو قانون او د راستنېدونکو صنعت کارانو او سوداګرو لپاره د امتیازاتو او اسانتیاوو د تنظیمولو د طرزالعمل توشیح ده.

د صنعتي ساحو قانون اصلي موخه د صنعتي ساحو د تنظیم له لارې د افغانستان اقتصاد ته وده او پرمختیا ورکول او د خصوصي سرمایه ګذارۍ د جلب او جذب لپاره د زمینې برابرول دي.

دغه راز د راستنېدونکو صنعت کارانو او سوداګرو لپاره د

جوړ شــوي طرزالعمل له مخې به هغو صنعت‌کارانو او ســوداګرو ته چې په نوې صنعتي برخــه کې سرمايه ګذاري کوي پر نــورو امتيازونو سربېره د کارکوونکو له ماليې پرته لــه نورو مالياتو څخه د پنځــو کلونو لپاره معاف وي.

همدا ډول راســتنېدونکو صنعت‌کارانو او ســوداګرو ته وارداتي ماشين الات او وسايل له ګمرکي محصول څخه معاف شوي دي. همداراز د صنعت‌کارانو او سوداګرو په غوښتنه د هغوی فني بهرنيو کارکوونکو او انجنيرانو ته دوه کلنې ويزې هــم ورکول کېږي چې دا د راســتنېدونکو صنعت‌کارانو او سوداګرو لپاره ستر امتياز دی او د اسلامي امارت له لوري د ملاتړ ځرګندويي کوي.

له دې څخه د اســلامي امارت موخه داده چې په کور دننــه او له هېواد څخــه بهر افغان صنعــت‌کاران او پانګوال په مختلفو سکټورونو کې پانګونې ته وهڅوي چې په مرســته به يې د نور سکټورونو ترڅنګ صنعت پرمختګ وکړي، هېوادوالو ته به کاري زمينه برابره او د کورني توليد کچه به زياته سي.

د افغانستان اسلامي امارت په استازيتوب د خصوصي سکټور استازيو، ســوداګرو، صنعتکارانو، پانګوالو ته يو ځل بيا ډاډ ورکوم، چې اســلامي امــارت به د اړتيا پر مهال هر ډول لازمه همکاري درسره کوي. ان شاءالله په پای کې له ټولو په کور دننه او بهر کې مېشت افغان صنعتکارانــو او پانګوالو څخه غوښــتنه کوم چې خپل صنعت او پانګه دې هېواد تــه را انتقال کړي تر څو د هېواد صنعت په پرمختګ کې خپل مسووليت ادا کړي.

د اســلامي امارت له لوري د صنعت‌کارانو او پانګوالو لپاره په پام کې نيول شويو امتيازاتو څخه دې هم پوره استفاده وکړي.





## د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په خوست ولايت کې

# د فاضلانو د دستاربندۍ په مراسمو کې

## ګډون وکړ

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د مرغومي مياشتې په ۲۹مه نېټه په خوست ولايت کې د جامعه مظهر العلوم نيازي د فاضلانو د دستاربندۍ په مراسمو کې ګډون او وينا وکړه. د دستاربندۍ په يادو مراسمو کې د اسلامي امارت يوشمېر مسوولينو، علماوو کرامو، مشايخو او د سيمې اوسېدونکو هم ګډون کړی وو.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال يادو مراسمو ته د خپلې وينا پر مهال وويل، د اسلامي تاريخ په اوږدو کې مدارس د ديني علم، جهاد، نبوي اخلاقو د ترسيخ، د ديني شعور او هويت ساتنې په برخه کې فعال مرکزونه پاتې شوي او ټولنو ته هغه هستۍ وړاندې کوي چې رسول‌الله (ص) خپل وارثان بللي او امت ته د اخلاقو او نبوي چلند معيار ګرځي.

محترم ملا صاحب زياته کړه، په افغانستان کې د مقدس جهاد د فرضيت اسلامي روايت په مدارسو کې په رښتينې بڼه ظهور وکړ، دا روايت له مدارسو راوټوکېد، کليو او ښارونو ته يې سرايت وکړ او په داسې دوامداره مقدسه مبارزه بدل شو چې سترو کفري لښکرو ته يې شرموونکې ماتې ورکړه.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ديني مدارسو له مسوولينو او فارغ شوو فاضلانو څخه وغوښتل چې د وعظ او منبر ژبه نوره هم نرمه او ښايسته کړئ، د ديني مکلفيتونو ترڅنګ خلکو ته د اسلامي نظام او ملي ګټو د ساتنې روحيه او فکر ورکړئ، له خلکو سره د نبوي اخلاقو په چوکاټ کې برخورد کوئ، په خپل علم عمل وکړئ، په خپله برخه کې لا ډېره مطالعه او پرمختګ وکړئ.

محترم ملا صاحب زياته کړه: «تاسې ته ښه معلومه ده چې اوس د ټکنالوژۍ دور دی؛ کوشش وکړئ چې له معاصرو زده کړو او اړتياوو سره هم ځانونه بلد کړئ، څو په واقعي ډول د دين او ولس خدمت وکولای شئ او ولسونو ته ديني شعور او فهم په معاصره او قابل فهم ژبه انتقال کړای شئ».

محترم ملا صاحب د هېواد اقتصادي وضعيت ته په اشارې سره وويل، له نېکه‌مرغه د هېواد په کچه د اقتصادي ودې په برخه کې اوسمهال ډېرې مهمې ملي پروژې او کارونه روان دي، د نړۍ له هېوادونو سره تجارتي اړيکې پراخې شوې، داخلي توليداتو ته مناسب بازارونه موندل شوي او د امارتي منابعو د غوره مديريت لپاره په مهمو ملي پلانونو او ستراتيژيو کار روان دی.

په پای کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ټولو فارغو شوو فاضلانو او د هغوی محترمو کورنيو ته مبارکي وويله او له هغوی يې وغوښتل چې له خپل علم څخه د دين، هېواد او د دې شريف ولس د خدمت لپاره ګټه واخلي.



# د سوداګرۍ پراختیا په موخه
## د لویو لارو جوړونې او بیارغونې چارې
### په چټکۍ سره روانې دي

اســـلامي امارت په ۲۰۲۴ کال کې د هېواد د یوشمېر مهمو لویو لارو، سړکونو او د دې لارو د سترو او کوچنیو پلونو او پلچکونو جوړونې او بیارغونې ته ځانګړې پاملرنه کړې او په دې برخه کې یې ګڼ شمېر پروژې پیل کړې دي چې دلته یې ځینو ته د بېلګې په ډول اشاره کوو:

**کابل-کندهار لویه لار:** د دې لارې د بیارغونې چارې تر ډېره بریده بشـــپړې شوې دي، چې د هېواد د جنوب او مرکز ترمنځ د تګ راتګ او سوداګرۍ په برخه کې ورسره ګڼې اسانتیاوې رامنځته شوې دي.

**ســـالنګ لویه لار:** د ۸۰ کیلومتره ســـړک د اساسي بیارغونې کار په درېیو لاټونو کې پیل شوی او چارې یې په چټکۍ سره روانې دي، چې د هېواد د شمال، مرکز او جنوب ترمنـــځ د ترافیکي بهیر د ښــه کولو ترڅنګ د سوداګرۍ او ترانزیټ په پراختیا کې هم مهم رول لري.

**کندهـــار-ارزګان ســـړک:** د ۱۸۰ کیلومتره ســـړک د لومړۍ ۱۳ کیلومـــتره برخې د بیارغونې کار روان دی، چې د سیمې د اوسېدونکو لپاره به د تګ راتګ په برخه کې اسانتیاوې رامنځته کړي.

**کابل-غزني دویم لین ســـړک:** د دغه سړک د اساسي جوړونې چارې پیل شـــوې دي، چې د مرکزي ولایتونو ترمنځ به د ترافیکي بهیر په ښه کولو کې مرسته وکړي.

**کابل-جلال اباد دویم لین ســـړک:** د اساسي جوړونې چارې یې پیل شوې دي، چې له ختیځو ولایتونو سره به د مرکز سوداګریزې اړیکې لا پیاوړې شي.

**هرات-غور ســـړک:** د لسګونه کیلومترو په اوږدوالي دا ســـړک د هـــرات او غور ولایتونـــو ترمنـــځ د اتصال او اقتصادي ودې لپاره حیاتي اهمیت لري.

د دې پـــروژو پـــلي کېدل بـــه د هېواد پـــه اقتصادي پرمختګ، د ترافیکي بهیر په ښه کولو او د هېوادوالو په ورځني ژوند کې د پام وړ مثبت بدلونونه راولي.

د یادونـــې وړ ده چې د اســـلامي امـــارت د مشرتابه عالیقدر امیرالمؤمنین شـــیخ صاحب د حکم له مخې، په لویو لارو کې د ۷۵ جوماتونو جوړولو چارې هم پیل شوې دي، چې د مسافرو لپاره به د لمانځه اسانتیاوې ورسره برابرې شي.



# مقالي

## د اقتصادي موضوعاتو اړوند :

# د کانونو سالم مدیریت
## او اقتصادي ارزښت ته کتنه

**لیکوال:** امان الله حنیفي

**مـــوږ په دې مقاله کې د هېـــواد د کانونو او طبیعي زېرمو د ســـالم مدیریت او اقتصادي ارزښت په اړه خبرې کوو.**



## سریزه

افغانستان د خپل جغرافیوي موقعیت، موجودو کانونو او طبیعـــي زېرمو په درلودو سره په ســـیمه او نړۍ کې ځانګړی اقتصادي ارزښـــت لري. دغه قیمتي او د نړۍ پـــه کچه نایابه او غني کانونه او طبیعي زېرمې د هېواد د اقتصادي پرمختګ لپاره هغه لویه قوه ده، چې سالم مدیریت یې د صنعت د ودې، د صادراتو د زیاتوالي، په ډېره لویه کچه د پانګونې د جذب، د مســـلکي قشر د روزنـــې، هېواد تـــه د نوې او پرمختللـــې ټکنالوژۍ په انتقال، د زېربناوو په جوړولـــو، د کرنې په پرمختګ او همدارنګه میلیونونـــو هېوادوالو ته د کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې مهم او اساسي رول ادا کولی شي.

د ترسره شـــوو څېړنو له مخې، د افغانســـتان کانونو او طبیعي زېرمو ارزښت شاوخوا دری ټریلیون ډالره ښودل شـــوی، چې مهم یې اوســـپنه، مس، المونیم، قلعي، سُرب، جســـت، سره زر، ســـپین زر، مولیبدنوم، سلفر، شوکاڼي، ګچ ډبرې، کرومایټ، لیتیم، یورانیم، طبیعي ګاز، نفت او داسې نور دي.
د دغه طبیعي شـــتمنیو په را ایســـتل کېدو سره به نه یوازې زموږ هېـــواد له بې وزلۍ او اقتصادي ســـتونزو خـــلاص شي، بلکې په مختلفو برخو کـــې به د پام وړ پرمختـــګ وکړي. موږ په همـــدې مقاله کې د هېواد د کانونو او طبیعي زېرمو د ســـالم مدیریت او اقتصادي ارزښت په اړه خبرې کوو.

## د افغانستان کانونه او طبیعي زېرمې

د افغانســـتان د کانونـــو او طبیعي زېرمو پـــه اړه ډېری مطالعات او څېړنې د نړیوالـــو ادارو لخوا ډېر پخوا ترسره شـــوي او له هغه وروسته وخت ناوخت په ځینو برخو کې بیاځلې او یا هم نوې سروې ګانې ترسره شوې دي.

مخکینۍ ترسره شوې څېړنې ښیي چې افغانستان د سرو زرو، سپینو زرو، پلاتینیم، اوسپنې، یورانیم، تاتینیم، المونیم، ډبرو سکرو، مسو، طبیعي ګاز او نفتو پراخې زېرمې لري، چې د مسو ارزښت یې تر نورو هغو ډېر دی. ځکه د نړۍ په بېلابېلو برخو کـــې د دغه فلـــز زېرمې مخ په خلاصېـــدو دي او د افغانستان لا تراوسه پر خپل ځای پاتې دي.



د ترسره شـــوو څېړنو له مخې، افغانستان کېدای شي چــې د ليتيمو د موجوديت له امله پر دويم ســـعودي عربســـتان بانديې بـــدل شي. دا ځکه چـــې ليتيم د ګرځنـــده ټيليفونونـــو او کمپيوټرونـــو پـــه بطريو او د الکترونيکي نقليه وسايطو لپاره د انرژۍ په تأمين کې کارول کېږي، چې ننني نـــړۍ ورته تر بل هرڅه ډېره اړتيا لري. نړيوالې څېړنې ښـــيي چې ليتيم هم د تېلو په شـــان په چټکۍ سره په يوه ســـتراتيژيک محصول بدلېدونکی دی؛ ځکه ليتيم تســـليحاتي کېدای شي چـــې په راتلونکي کې به په ډېـــرو برخو کې د موټر له توليده نيولې د روبوټونو او د موټر تر ماشـــينونو پورې ترې استفاده وشي. د موجودو علمي موندنو پر اساس، ليتيم په بطريو کې تر اســـتفادې ورهاخوا، په هستوي ټکنالوژۍ کې هم کارول کېږي او د سپک وزن او ډېر حرارت له کبله د الوتکې په بدنه کې له المونيم او مسو سره يوځای ترې استفاده کېږي.

د ډبرو ســـکرو په برخه کې لومړنۍ څېړنې ښيي چې افغانستان په ۱۲ ولايتونو کې ۸۰ د ډبرو سکرو کانونه لري چې مجموعي زېرمه يې په سلګونو ميليونو ټنو ته رسېږي. د افغانســـتان له ختيځ ولايت بدخشان څخه رانيولـــې تر لوېديځ ولايت هرات پورې د ډبرو ســـکرو تقريبـــاً ۷۰۰ کيلومـــتره اوږد او ۴۰ کيلومتره ســـور لرونکی رګ تـــر خاورو لاندې پروت دی، چې لا هم نه دی سپړل شوی.

پر مسو، ليتيمو او ډبرو سکرو سربېره افغانستان د نفتو، طبيعي ګازو، اوسپنې، قېمتي ډبرو، سرو او سپينو زرو او نورو بېلابېلو قيمتي منرالونو او صنعتي فلزاتو لويې او کوچنـــۍ زېرمې لـــري چې ټوليز ارزښت يې شاوخـــوا ۳ ټريليونه ډالر اټکل شوی دی.

## د هېواد د کانونو او طبيعي زېرمو سالم مديريت

د کانونو او طبيعي زېرمو د مسلکي او قانوني استخراج لپاره اړينه ده چې حکومت يوه ښـــه مديريتي پاليسي ولري څو له دې طبيعي منابعو څخه په ســـم ډول ګټه پورته کړي. دا د قانون د تطبيق، د شفافيت زياتوالي، د بهرنـــۍ پانګونې جلبولـــو او د کانونو د اســـتخراج پروســـې ته د مســـلکي دقت ورکولو لـــه لارې ترسره کېدای شي.

له نېکه‌مرغه اســـلامي امارت دې مسلې ته پوره دقت کړی، کانونو او پټروليم وزارت د منرالونو د اولويت بندۍ ســـند او د ستر مقياس معدني موادو د پروسس په موخه د معدني ســـاحو د ځانګړي کولو طرحه جوړه کړې ده. د دغه طرحې له مخې به هغه نايابه او قيمتي معدني مواد چې د نورو مهمو کانونو په پروســـس کې ورته اړتيـــا ليدل کېږي، په قـــرارداد نه ورکول کېږي؛ بلکې هغه ســـاتل کېـــږي څو د امکاناتـــو برابرېدو په صورت کې په هېواد کې دننه د نورو کانونو د پروسس پرمهال ترې استفاده وشي.

اسلامي امارت په ټول هېواد کې د غير قانوني کيندنو مخنيوی کړی او د فســـاد پر وړاندې يې جدي مبارزه پيل کړې. اسلامي امارت د زورواکانو د قدرت جزيرې

لـــه منځه وړي او پـــه ټولو لویو او کوچنیـــو کانونو یې حاکمیت ترلاســـه کړی دی. هر لوی او کوچنی کان د ازادۍ داوطلبـــۍ له لارې اکتشـــاف او اســـتخراج ته وړاندې کېږي او ترلاسه شوي عواید یې په شفاف ډول د بیت‌المال حســـاب ته جمع کېږي. د افغانســـتان اســـلامي امارت او په ځانګړي ډول د کانونو او پټرولیم وزارت هڅه کوي چې کانونه په مسلکي ډول استخراج کړي، د اســـتخراج لپاره یې له نوو عصري ماشـــینونو اســـتفاده کړې ده او کانونو ته د غځېدلو لارو بیارغونه پیل شوې ده.

د افغانســـتان اســـلامي امارت د کانونو داوطلبۍ په پروســـه کې د فســـاد د مخنیوي په موخه د کانونو پر قانون له سره غور وکړ او په هغه کې یې لازم تعدیلات راوســـتل. کانونو او پټرولیـــم وزارت د ټولو هغو کانونو ورکړه بېرته مرکزي کړې ده چې د تېرې اداري ولایتي ریاســـتونو ته یې په قرارداد د ورکړې صلاحیت ورکړی و. د کانونو د ســـاتنې او استخراج په برخه کې د سالم مدیریت، د استخراج له پروســـې منظمې څارنې او د داوطلبۍ په پروسه کې د فســـاد جرړو ایستلو پر مټ اسلامي امارت توانېدلی چې د دې برخې عواید زیات کړي. د افغانســـتان اسلامي امارت له لوري په قانوني ډول د کانونو په استخراج سره ډېرو هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شوې، غیر قانوني کان کیندونکي قانوني چوکاټ ته داخل شـــوي او هرې پروســـې منظمه بڼه خپله کړې ده.

## پایله

د افغانســـتان کانونـــه او طبیعـــي زېرمـــې د هیواد د اقتصادي ودې لپاره یو مهم ســـکټور بلـــل کېږي. په مسلکي او قانوني ډول د دغه سکټور استخراج د دولت خزانې ته پـــه میلیاردونو افغانۍ عوایـــد برابروي، دغه عواید د لویو زېربنایي پروژو په پیل او بشپړولو کې اساسي رول ترسره کوي، د هېواد د صادراتو کچه ورسره لوړېږي او په ورته وخت کې لســـګونو زرو هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابروي.

له نېکه‌مرغه اوســـمهال په ټول هېواد کې د کانونو او طبیعي زېرمو استخراج قانوني بڼه خپله کړې او په ډېر جدیت سره یې سالم مدیریت ترسره کېږي.



# سوداګرۍ کې د ټکنالوژۍ رول ته لنډه کتنه

**لیکوال:** زاهد خلیلي

**په دې مقاله کې زموږ پر ژوند د ټکنالوژۍ پر اغېزو، سوداګرۍ کې د هغه پر رول او ګټو باندې لنډ بحث شوی دی.**



## سریزه

